سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۰۳/۰۶

# د سولې مور

ویره او کرکه نه ده، د سولې مور مینه ده
اوسیدای نشي اورکی، د سولې کور مینه ده

په تاو تریخوالی باندې، غلبه سوله بولې
چی تری جګړه را زیږی، هغه د اورمینه ده

دوستې چی وړي له منځه او دښمنې زیږوی
د ورونو منځ کی همیش، همدا د زور مینه ده

چی فاصلې جوړوی او سستوی اړیکې
دا بله میـنه نه ده، دا د پیغور میـنه ده

زموږ دنیا یوه ده ، ټول د دنیا بچي یو
ښکلا زموږ د دنیا، د سپین او تور مینه ده

راځئ چی سوله وکړو، راځئ چی مینه وکړو
چی مینه سوله نه وی، دا نو د ګور مینه ده

د کلیوال کلی کی، بیا را ټوکیږی مینه
چی پسرلی راولی، هغه د وروړ مینه ده

مارچ/۴/۲۰۲۰
تورنتو ـ کاناډا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ